2017550139621

# مسیر

ورځپانه

www.maseerdaily.af


نوی لید، نوی مزل

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ٦مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۲۸مه | ۷۵۳مه ګڼه

## کتاب

۴ مخ

### ستر سکندر او یونانیان د نني افغانستان په سیمه کې




د کتاب لیکوال وايي: د مسلک په لحاظ زه له ټکنالوژۍ سره تړلی یم او تقریباً ۴۰ کاله مې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې دننه په افغانستان کې او هم بهر په نړیوالو موسسو کې...

## سوداګرۍ وزارت: تېر کال د ۷۸۰ میلیونو ډالرو په ارزښت توکي بهر ته صادر شوي



سوداګرۍ وزارت وايي، چې افغانستان په تېر ۱۳۹۹ مالي کال کې بهرنیو هېوادونو ته د ۷۸۰ میلیونه ډالرو په ارزښت بېلابېل توکي صادر کړي دي.

د یاد وزارت په خبره، په دغو توکو کې چې ډېره برخه یې مېوې جوړوي، د هوايي دهلېزونو له لارې امریکا، ایټالیا، جرمني، تاجکستان، عربستان، روسیې، ازبکستان او اردن هېوادونو ته صادر شوي دي. د یاد وزارت د چارواکو په وینا، سعودي عربستان د یادو هېوادونو په ډله کې هغه هېواد دی، چې تر ټولو ډېر (د ٦ میلیون او ۷۹۷ زره ډالرو) په ارزښت توکي یې له افغانستان څخه پېرلي دي.

د یاد وزارت په خبره، سږکال د تېر کال په پرتله د صادراتو په کچه کې ۲۸ سلنه ډېروالی راغلی دی، خو دغه وزارت د سږنیو صادراتو کچه نه ده په ډاګه کړې. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ځینو سوداګریزو بندرونو له سقوط وروسته افغانستان تر ډېره د هوايي دهلېزونو له لارې پر صادراتو تمرکز ډېر کړی دی.

# د جګړو شدت او د کډوالۍ ناورین؛

## ډېری افغانان د جګړو د شدت او کډوالۍ له کبله د خپل راتلونکي په اړه ناهیلي شوي



۵

### د بیان ازادۍ ته زیاتېدونکي ګواښونه

۲ مخ

### د افغانستان په ګمرکونو کې پراخ اداري فساد؛ لاملونه او د مخنیوي لارې چــــــارې یې

۲ مخ

### افغانستان باید بهرني سیاست کې ختیځ ته مخه کړي

۳ مخ

## ناټو: د افغان ځواکونو هر اړخیز ملاتړ او روزنې ته دوام ورکوو

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ وايي، دغه سازمان له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. نوموړي په خپل ټویټر کې لیکلي، چې له افغان ولسمشر محمداشرف غني سره یې پر ټلیفون خبرې کړې دي.

سټولټنبرګ ویلي: «ناټو له افغانستان څخه په مالي تمویل، غیرنظامي حضور او له هېواد څخه بهر د روزنې له لارې خپل ملاتړ ته دوام ورکوي».

نوموړي د افغانستان امنیتي وضعیت کړکېچن بللی او ویلي یې دي، چې له دغه وضعیت څخه وتل د مذاکراتو پر سر توافق ته اړتیا لري.

له دې وړاندې هم امریکا او ناټو ټینګار کړی و، چې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ته به له افغانستان څخه بهر روزنه ورکړي.

په ورته مهال ارګ بیا د دې ټلیفوني اړیکې په تړاو تر اوسه څه نه دي ویلي. د متحده ایالتونو ولسمشر جو بایډن هم له دې وړاندې له خپل افغان سیال ولسمشر غني سره په ټلیفوني اړیکه کې له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو څخه د امریکا د ملاتړ ډاډ ورکړی و.

د ولسمشرۍ ماڼۍ مرستیال وياند محمد امیري وايي چې جمهور رئیس غني له افغان ځواکونو څخه د امریکا د ملاتړ د دوام د څرنګوالي په اړه د متحده ایالتونو د پوځ د مرکزي قوماندانۍ له مشر جنرال کینټ مکینزي سره خبرې کړې دي.

مکنیزي ټینګار کړی، که طالبان خپلو بریدونو ته دوام ورکړي، دوی به هم له افغان ځواکونو په ملاتړ پر طالبانو هوايي بریدونه ډېر کړي.

## پي‌ټي‌ایم: پاکستان دې ژر تر ژره د افغانستان په کورنیو چارو کې له مداخلې لاس واخلي



۵ مخ

## وزارت تجارت: حکومت مکانیزم مشترک برای مدیریت بندرها و بازارهای کشور ایجاد کرده است



وزارت صنعت و تجارت به همکاری وزارت‌های مالیه و اقتصاد راهکار مدیریت تجارت، بازار و بندرهای کشور را نهایی کرده است.

وزارت صنعت و تجارت با نشر اعلامیه‌ای گفته است که این وزارت به منظور رسیده‌گی به مدیریت تجارت و بازار و نیز رسیده‌گی به چالش‌ها در بنادر کشور، مکانیزم مشترکی را به همکاری وزارت‌های مالیه و اقتصاد ایجاد کرده است.

طبق اعلام این وزارت قرار است این مکانیزم با حضور نماینده‌گان سکتورهای دولتی و خصوصی با محمداشرف غنی، رئیس جمهور کشور، در میان گذاشته شود.

نثاراحمد غوریانی، وزیر صنعت و تجارت، در جلسه نهایی‌سازی این مکانیزم تصریح کرده است که هدف از این طرح، تأمین مواد اولیه مورد نیاز شهروندان در سراسر کشور با همکاری سکتور خصوصی است. او همچنان افزوده است که در این طرح تمامی چالش‌ها و راه‌های حل برای چگونه‌گی تأمین مواد اولیه مورد نیاز شهروندان پیش‌بینی شده است.

از سویی هم، عالم‌شاه حیدری، معین عواید و گمرکات وزارت مالیه، تصریح کرده است که این وزارت در همکاری با وزارت صنعت و تجارت و سکتور خصوصی طرح آسان‌سازی روند افزایش واردات و صادرات را نیز روی دست دارد.

کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د بيان ازادۍ ته زياتېدونکي ګواښونه

په افغانستان کې له وروستيو بدلونونو سره د بيان ازادي هم له ګواښ سره مخ ده. طالبان پرله‌پسې له خبريالانو غواړي چې د دوی پر ضد تبليغات ونه کړي او په وينا يې واقعيتونه بيان کړي. حکومتي چارواکي بيا له خبريالانو غواړي چې د جمهوريت ملاتړ وکړي، د طالبانو په ګټه تبليغات ونه کړي او د نظام تر ځنګ ودرېږي. له دې سره هم‌مهاله ملي امنيت په کندهار کې څلور هغه خبريالان د ملي امنيت شورا په غوښتنه نيولي، چې سپين بولدک ته تللي وو او هلته يې د هغو خبرونو په اړه معلومات را ټولول چې ګواکې طالبانو خلک له کورونو ايستلي او وژلي يې دي. کورنيو چارو وزارت وايي دغو خبريالانو د دښمن په ګټه تبليغات کول، خو په دې اړه يې هېڅ اسناد او معلومات له رسنيو سره نه دي شريک کړي. تر دې وړاندې هم ژورنالېستان نيول شوي، ګواښل شوي او آن وژل شوي دي.

اوس ژورنالېستان تر بل هر وخت له زيات فشار سره مخ دي، ځکه چې دواړه اړخونه عمومي او مبهمې خبرې کوي او د رسنيو په تړاو سرې کرښې نه واضح کوي. د طالبانو په اړه ډېر بحث نه کوو چې هغوی لا د بيان هغه ازادي نه ده منلې چې زموږ په اساسي قانون کې تعريف شوې، نه هم کومې رسنۍ له طالبانو د فعاليت اجازه اخيستې او نه يې هم طالبانو ته ماليه ورکړې ده. نو پر طالبانو ډېر بحث نه کوو او واقعيت هم دا دی چې طالبانو په وروستيو کې له رسنيو سره په چلند کې بدلون راوستی دی. خبره د حکومت د اړخ ده. په دې اړخ کې اوس معلومه نه ده چې حکومت څه ته د نظام تخريب او د دښمن په ګټه تبليغ وايي. له همدې امله ډېر کله هره نيوکه چې پر حکومت او حکومتي چارواکو کېږي، د نظام تخريب ګڼل کېږي او د طالبانو د پرمختګ په تړاو هر ډول خبر ته د دښمن په ګټه تبليغ ويل کېږي. چارواکو نظام او حکومت سره ګډ کړي او له همدې د خپلو سياسي مخالفينو او ژورنالېستانو د ځپلو او پر هغوی د ټاپو لګولو لپاره استفاده کوي. اوس رسنۍ تر بل هر وخت د حکومت له سخت فشار سره مخ دي او دا په داسې حال کې ده چې حکومت د جمهوريت او د بيان د ازادۍ شعارونه هم ورکوي.

که حکومت رښتيا د هغو کسانو پر ضد ګامونه اخلي چې د دښمن په ګټه تبليغ کوي او يا نظام تخريبوي، نو پکار ده چې لومړی په دې برخه کې حدود واضح کړي. د دې تر څنګ په دې برخه کې د حکومت لخوا اخيستل کېدونکی ګام خپله بايد له اساسي قانون او نورو نافذه قوانينو سره برابر وي. موږ د رسنيو د قانون پر اساس يو کمېسيون لرو چې که ژورنالېست او يا رسنۍ تېروتنه کوي، نو دوسيه به هلته ځي او که هلته حل نه شي، بيا خبره څارنوالۍ او محکمې ته ځي. اوس دا هر څه تر پښو لاندې کېږي، ملي امنيت ژورنالېستان د امنيت شورا په غوښتنه نيسي، بندي کوي يې او آن ځان اړ هم نه ګڼي چې په دې اړه ژورنالېستانو او رسنيو ته معلومات ورکړي. دا خپله ناقانونه کار دی او نه شي توجيه کېدلی. که کوم ژورنالېست او رسنۍ د بيان له آزادۍ ناوړه ګټه اخلي، نظام تخريبوي او يا هم له دښمن سره همکاري کوي، پکار ده چې له قانوني لارو ورسره چلند وشي. له دې پرته هر بل ګام د رسنيو د کنټرول او د بيان د ازادۍ د محدودولو هڅې دي چې بدې پايلې به ولري.

# د افغانستان په ګمرکونو کې پراخ اداري فساد؛ لاملونه او د مخنيوي لارې چارې يې

◄ ليکنه: د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

**وروستۍ برخه:**

**د حکومتي چارواکو او زورواکو رول**

د اداري فساد پر ضد د څارنې او ارزونې د خپلواکې کمېټې د يوه راپور له مخې، چې تېر کال خپور شوی و، د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو اړوندو برخو کې د زورواکانو، د پارلمان غړو او دولتي چارواکو ناقانونه مداخلې او فشارونه په دغو ادارو کې د اداري فساد يو اساسي لامل دی. ډېر کله داسې هم شوي، چې د ګمرک عادي مامورين د زورواکانو له لوري د زور او تهديد له لارې د اسنادو لاسليک کولو ته اړايستل شوي. د ماليې وزارت سرپرست محمد خالد پاينده هم د ولسي جرګې په غونډه کې له ورته ستونزې شکايت وکړ. نوموړي وويل: «له بده مرغه په ځينو ځايونو کې واليان، امنيه قوماندانان، کميساران او هر څوک چې زور يې ورسېږي، خپل حق اخلي.» په ګمرکونو کې د اداري فساد د مخنيوي په برخه کې د حکومت هڅې تر ډېره مؤثرې نه دي او عملاً داسې اقدامات نه دي شوي، چې په ګمرکونو کې د اداري فساد د مخنيوي لامل شي؛ بلکې ځينې داسې موارد هم تر سترګو کېږي، چې د اداري فساد له زياتېدو سره مرسته کوي.

په ځينو مواردو کې داسې کسان چې د اداري فساد دوسيې لري، د دې پر ځای چې قانون پرې پلی شي، بياځلي په ګمرکونو کې پر دندو ګمارل کېږي. يا هم هغه مامورين چې په فساد تورن پېژندل شوي، موده وروسته پرته له دې چې په قضايي ارګانونو کې يې دوسيې تصفيه شي، د بدو يا پېژندګلوۍ په بدل کې بېرته په ګمرک او يا بله دولتي اداره کې پر دنده ګمارل کېږي. دا چاره هغو کسانو ته چې برحاله په ګمرکونو کې په فساد کې ښکېل وي، د لا ډېر فساد جرئت ورکوي.

څه موده وړاندې په لويو لارو کې له سوداګرو څخه د پوليسو او نورو غيرمسووله وسله‌والو له لوري د ناقانونه پيسو اخيستلو قضيه جدي شوه او د بار وړونکو لاريو موټر چلوونکو کاري اعتصاب وکړ. د دوی په خبره، پر سوداګريزو توکو بار لاريو څخه د پوليسو لخوا غير قانوني پيسې غوښتل کېږي او د نه ورکړې په صورت کې هغوی ګواښل کېږي او يا وژل کېږي. که څه هم حکومت په دې تړاو د اقداماتو خبر ورکړ او د موټر چلوونکو کاري اعتصاب پای ته ورسېد، خو څو ورځې وروسته بېرته هماغه پخوانی وضعيت شو او بيا هم ځينې موټر چلوونکي پکې د پوليسو له لوري ووژل شول. دا چاره د دې لامل شوې چې سوداګر د مالونو د ځنډ رسېدو او خرابېدو له امله هم په لويو لارو کې ناقانونه پيسې ورکړي او هم په ګمرکونو کې د خپلو مالونو ژر تېرېدو لپاره مامورينو ته پيسې ورکړي.

د حکومت داخلي سياسي اختلافات او په ځينو مواردو کې په ګمرکونو کې مداخلې هم دغلته د فساد د لوړېدو لامل شوې دي. د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ مياشت کې ولسمشرۍ ماڼۍ په ماليې وزارت تور پورې کړ چې په غير قانوني توګه يې په ګمرکونو کې ګمارنې تر سره کړې او له همدې کبله يې د ۱۳۸ کار کوونکو د سملاسي ګوښه کېدو امر وکړ. د دواړو لوريو تر منځ دا اختلاف داسې حد ته ورسېدل چې د ماليې وزارت د مشرتابه بدلون ته يې لاره هواره کړه. د ماليې وزير چې له ولسي جرګې څخه يې د باور رايه هم تر لاسه کړې وه د ولسمشر له لوري له دندې ګوښه کړای شو. د خپرو شوو اسنادو له مخې، ولسمشر د ماليې وزارت ۶۰ کارکوونکي ګوښه کړي وو او څارنوالۍ ته د معرفي کېدو امر يې کړی و، خو هغه کارکوونکي نه يوازې څارنوالۍ ته معرفي شوي نه وو، بلکې خپلو دندو ته يې دوام ورکړی و.

د دې تر څنګ، يو بل لامل هم په اداري فساد کې د بهرنيانو ښکېلتيا ده چې په مجموع کې يې په افغانستان کې اداري فساد ته وده ورکړې. له ۲۰۰۱ کال راوروسته له افغانستان سره د شوو مرستو ډېره برخه په خپله د بهرنيانو او مرستندويه ادارو له لوري لګول شوې او کمه سلنه يې د افغان دولت د بودېجې له لارې لګول شوې ده. د بېلګې په توګه، له ۲۰۰۲ کال تر ۲۰۰۹ پورې مرستندويه هېوادونو له افغانستان سره درې اعشاريه شپږ ميلیارده ډالر مرسته کړې چې يوازې ۲۳ سلنه يې د افغان حکومت له لارې لګول شوې. د بهرنيو هېوادونو له لوري په خپله د مرستو مصرف او د لوړ پوړو افغان دولتي چارواکو خپلوانو ته د قراردادونو ورکول د دې لامل شول چې اداري فساد ته لاره هواره کړي. پخواني ولسمشر حامد کرزي د خپل واک په موده کې په افغانستان کې بهرني هېوادونه بار بار پر فساد او فساد ته پر ودې ورکولو تورنول. ان تر دې چې خپله د کرزي د ورور د ښکېلتيا خبره هم پکې مطرح وه او خپله کرزي په دې اړه هم بهرنيان ملامت کړي وو. د يوه امريکايي حسابدار له قوله چې په افغانستان کې يې دنده تر سره کړې، نوموړي د ۱۰۶ ميلیارده ډالرو معادل قراردادونو په ارزونه کې رول لرلی. د دې ارزونې پايله دا وه چې د دغو قراردادونو تر ۴۰ سلنه زياتې پيسې په نورو لارو ضايع شوې او يا هم د جنايتکارو ډلو او فاسدو افغان چارواکو جيبونو ته تللې دي.

**په ګمرکونو کې د اداري فساد اغېزې**

د افغانستان د اساسي قانون د ۴۲مې مادې له مخې، هر افغان مکلف دی چې دولت ته د قانون له مخې ماليه او محصول ورکړي، او ورکړل شوې ماليه او محصول دولتي واحد حساب ته تحويلېږي. خو له بده مرغه د شته اداري فساد له کبله يا خو ماليه او محصول دولت ته نه ورکول کېږي او يا هم د دولتي خزانې پر ځای د فاسدو چارواکو جيبونو ته ځي. په دې توګه هر کال د افغانستان ميلیاردونه ډالر عوايد ضايع کېږي؛ په داسې حال کې چې هېواد په خورا بد اقتصادي وضعيت کې دی او لا هم د بهرنيو مرستو له شتون پرته په اقتصادي لحاظ د حکومت دوام له ګواښ سره مخ دی.

د افغانستان کلنۍ بودېجه تقريباً څلور تر پنځو ميلیاردو ډالرو ته رسېږي. په داسې حال کې چې د وروستيو موندنو له مخې، يوازې په ګمرکونو کې د اداري فساد له کبله هر کال تر دوه نيم ميلیارده ډالرو زيات او د افغانستان د نږدې نيمايي بودېجې په اندازه عوايد ضايع کېږي. له دې کبله، لا هم د افغانستان د کلنۍ بودېجې تر پنځوس سلنه زياته برخه پر بهرنيو مرستو متکې ده. په ۱۴۰۰ کال کې د افغانستان ملي بودېجه ۴۷۳ ميلیارده افغانۍ وه، چې ۳۱۱ ميلیارده يې عادي او ۱۶۱ ميلیارده يې پرمختيايي بودېجه تشکيلوي. د ۱۴۰۰ کال بودېجې ۴۵.۸ سلنه د کورنيو عوايدو او پاتې برخه يې د مرستو له لارې تمويلېږي.

په ګمرکونو د عوايدو ضايع کېدل او اداري فساد په ټوليز ډول په افغانستان کې د اداري فساد يوه ستره برخه ده او د فاسدو هېوادونو په کتار کې د افغانستان په شاملېدو کې خپل رول لري. د شفافيت نړيوال سازمان هر کال افغانستان د هغو هېوادونو په لومړي کتار کې راولي، چې زيات اداري فساد پکې تر سره کېږي. په ګمرکونو کې اداري فساد په ټوله کې په افغانستان کې د اداري فساد کچه لوړه کړې او ان له افغانستان سره د کېدونکو بهرنيو مرستو بهير يې له ستونزو سره مخ کړی، ځکه نړيوالو بار بار خپلې مرستې د اداري فساد د کچې له کموالي سره تړلې دي.

په ګمرکونو کې پراخ اداري فساد او شته ستونزو د خلکو او حکومت تر منځ د واټن ډېرېدو او بې باورۍ رامنځته کېدو کې هم خپل رول لرلی. د افغانستان روښتيا څار سازمان د ۲۰۱۸ کال موندنو له مخې، ۴۳ سلنه افغانان په دې نظر وو چې د فساد له امله خلک د طالبانو ليکو ته ورځي او ۶۲ سلنه پوښتل شوو کسانو بيا په حکومت کې پراخ اداري فساد د طالبانو د نفوذ د زياتېدو لامل ګڼلی و.

بل لور ته په ګمرکونو کې پراخ اداري فساد پر داخلي توليداتو هم منفي اغېزې لرلې دي. له نا امنۍ، د برښنا نشتون او ډېرو نورو ستونزو سر سره د داخلي توليداتو لپاره پانګونه کېږي، خو په مقابل کې هېواد ته د ګمرکونو له لارې په قاچاقي او غير قانوني توګه له ګمرکي محصول پرته واردات تر سره کېږي او په دې توګه د داخلي توليداتو د بيو لوړېدو او په مارکيټ کې د نه خرڅېدو ستونزې رامنځته کوي. له دې کبله له يوې خوا د وارداتو محصول ملي عوايدو ته نه ځي او له بلې خوا د داخلي توليداتو او په هېواد کې دننه داخلي پانګونې پر وړاندې هم ستونزې جوړوي.

**په ګمرکونو کې د فساد کچه څنګه راښکته کېدلی شي؟**

تر هر څه دمخه له اداري فساد سره د اغېزناکې مبارزې او په ځانګړې توګه په ګمرکونو کې د اداري فساد او عوايدو د ضايع کېدو د مخنيوي لپاره قوي سياسي ارادې ته جدي اړتيا ليدل کېږي. په ګمرکونو کې د ميليونونو ډالرو فساد په اړه معلومات دا په ډاګه کوي چې د فساد د سرچينو پېژندلو او موندلو ته هم د ماليې وزارت لاسرسی آسان دی. د ماليې سرپرست خالد پاينده د جون مياشتې په ۱۰مه د فساد کچې ښکته کېدو ته په پام څرګنده کړه، چې اوسمهال د هرې ورځې په حساب، له ګمرکونو په منځنۍ کچه ۳۳۰ ميليونه افغانۍ راټولېږي، خو درې مياشتې وړاندې هره ورځ ۱۸۰ ميليونه افغانۍ راټولېدې. دا څرګندونې د دې ښکارندويي کوي چې د قوي سياسي ارادې په شتون کې د ګمرکونو د عوايدو زياتوالی په آسانۍ سره ممکن دی.

اداري فساد يوه نړيواله ستونزه ده او د نړۍ بېلابېل هېوادونه يې په بېلابېلو طريقو د مخنيوي هڅه کوي. په افغانستان کې د ګمرکونو په برخه کې د فساد د مخنيوي لپاره د ګمرکونو ريفورم او همدا ډول د ګمرکونو عصري کېدو ته جدي اړتيا ليدل کېږي. په ۲۰۰۴ کال کې د نړيوال بانک په مرسته په افغانستان کې د ګمرکونو د ريفورم چارې پيل شوې، چې له لارې يې د ۲۰۰۳-۲۰۰۴ کلونو د کلنيو عوايدو په پرتله چې شاوخوا ۷۷ ميليونو ډالرو ته رسېدل، په ۲۰۰۹-۲۰۱۰ کلونو کې د عوايدو کچه ورسره ۹۰۰ ميليونو ډالرو ته ورسېده. له دغه پرمختګ سره سره، سياسي بې‌ثباتي، امنيتي ستونزې او د ټکنالوژۍ او کنټرول سيستمونو په اغېزناک ډول نه پلي کول او داسې نور هغه فکتورونه وو چې لا هم په دې برخه کې جدي ګامونو اخيستلو ته اړتيا ليدل کېږي.

په تېرو کلونو کې ځينې هڅې د دې لامل شوې، چې په ګمرکونو کې اغېزناک اصلاحات هم رامنځته شي. د ګمرکونو اړوند مديريت پياوړي کولو پروژه چې له ۲۰۰۳ کال تر ۲۰۰۹ پورې د نړيوالو مرستو پر مټ پلي شوه، په ګمرکونو کې اغېزناک بدلونونه رامنځته کړل. د بېلګې په توګه، د سوداګرۍ په حجم کې له ۲ ميلیاردو امريکايي ډالرو څخه ۸ ميلیاردو ډالرو په کچه زياتوالی راغی او ګمرکي عوايد له ۵۰ ميليونو امريکايي ډالرو څخه ۴۰۰ ميليونو امريکايي ډالرو ته لوړ شول. له دې کبله جدي اړتيا ليدل کېږي، چې د ګمرکونو چارو ته توجه زياته شي او هلته بېلابېل پرمختللي سيستمونه تطبيق شي.

د سيستمونو آنلاين کول، د اصلاحي برنامو پلي کول، په ګمرکونو کې د سکنرونو لګول، عصري تاسيسات جوړول او ځينې نور ګامونه کولی شي، چې په ګمرکونو کې د فساد د مخنيوي په چاره کې اغېزناک رول ولري. که څه هم افغان حکومت له تېرو ۱۳ کلونو راهيسې هر کال په عصري وسايلو د ګمرکونو د سمبالولو او تاسيساتو جوړولو لپاره په ملي بودېجه کې ميلیاردونه افغانۍ ځانګړې کوي، پاتې۳مخ کې

# افغانستان باید بهرني سیاست کې ختیځ ته مخه کړي

لیکنه: عبدالحی قانت

په لویه کې د نړۍ هر هیواد د پرمختګ لپاره اقتصاد، نظامي، سیاست، د ټکنالوژۍ او کلتور په برخه کې پیشرفت ته اړتیا لري. دا پنځه هغه مهمې برخې دي چې له دې پرته ممکنه نه ده یو هیواد په رښتینې توګه پرمختګ وکړي. دې ټولو کې بیا تر ټولو مهمه برخه چې تر ډېره پرې دا څلور نورې برخې هم متکي دي، د سیاست برخه ده. دلته د سیاست له برخې مفهوم داخلي سیاست نه، بلکې د یو هیواد بهرني سیاست دی. اوسنۍ نړۍ کې چې اکثره هیوادونه په یو بل متکي دي او واړه ماهیان له دې ډاره چې لوی ماهیان یې تېر نه کړي، د نورو لویو ماهیانو شاته پټېږي، له ټولو مهم عنصر همدا بهرني سیاست دی.

زموږ هیوادوال باید د بهرني سیاست د اهمیت په اړه له ټولو ښه ځکه پوه وي چې موږ له دې برخې ډېرې ترخې تجربې لرو. د تېر ۴۰ کلن ناورین بنیاد او اساس غلط بهرنی سیاست و. د داوود د کودتاه پر مهال د هیواد په داخلي سیستم کې د خلق او پرچم نفوذ، د شوروي اتحاد یرغل ته لار برابرول او بالاخره زموږ ګران هیواد د اشغال غېږ ته غورځول هغه ناکام بهرنی سیاست و، چې له امله یې تر ننه زموږ هیواد د بهرنیو د لوبو میدان دی او لا به هم جریان لري.

تېر ۲۰ کاله افغانستان د امریکا په دوستۍ کې تېر کړل. دا ۲۰ کاله هم د بهرني سیاست له اړخه د شوروي له اشغال څخه ډېر متفاوت نه و. د پخواني ولسمشر حامد کرزي له اولې دورې تر ننه د افغانستان د بهرني سیاست محور امریکا او د ناټو هیوادونه وو. موږ نشو کولی چې په خپله خوښه خپل سیاست ترسیم کړو، بلکې زموږ بهرنی سیاست تر ډېره د امریکا او د دوی د ملګرو د سیاسي ګټو لپاره یوه وسیله وه. دا سیاست زموږ د ګټو لپاره نه جوړېده، ځکه چې موږ په مالي او نظامي برخو کې په کلي ډول په همدې هیوادونو تکیه وو.

یوویشتمه پېړۍ له غرب څخه شرق ته او یا له اروپا+امریکا څخه اسیا ته د واک د لېږد پېړۍ یادېږي. اسیایي هیوادونو تر ډېره د غرب پر ځای شرق ته مخه کړې او فکر کوي چې له چین سره خپل روابط جوړ کړي او وتوانېږي چې د چین برلاسي نړیوال نظام کې ځان ته ځای پیدا کړي. هېڅ اسیایي هیواد نه غواړي چې د غرب لپاره خپلې ملي ګټې تر پښو لاندې کړي. سوېلي کوریا، جاپان، هند، استرالیا اندونیزیا، تالینډ او کمبوډیا هغه هیوادونه دي چې دا مهال پرې امریکا د چین د مخنیوي لپاره حساب کوي. دا پاسني هیوادونه امریکا بسپنه کوي څو د چین مخه پرې ونیسي، خو د دې هیوادونو حال هم داسې دی چې راتلونکی یې له چین سره تړل شوی. د استرالیا څلوېښت سلنه تجارت له چین سره دی، جاپان له چین سره د یوې سیمې هیواد دی او نه غواړي مشکلات یې ډېر شي، دوی له امریکایانو او چینایانو سره په شریکه ګټه کوي او چې پوه شي امریکا نوره د نړۍ له مشرۍ غورځېدلې، په هماغه ورځ به یې له چین سره اړیکې بې سارې وي، اندونیزیا او دا نور هیوادونه هم همداسې.

پخواني ولسمشر حامد کرزي د خپل وخت په اواخرو کې په دې پوه شوی و، چې موږ باید د امریکا له بلاکه ورو ورو پښې وباسو او خپل آزاد بهرني سیاست ولرو، له ګاونډیانو سره خپلې ستونزې حل کړو او د خپلو ملي ګټو سیاست ته مخه کړو. دا یو ډېر مهم درک و چې افغانستان ورته وروسته له ډېرې مودې اړتیا درلودله. له ګاونډیانو سره ستونزې حل کول هغه څه وو، چې امریکایان ورسره ډېر حساس وو او موږ یې نه پرېښودلو چې دا کار وکړو. کرزي وروسته له ۲۰۰۸ کال چې کله یې د اوباما له اداري سره مشکلات پیدا شول، چین، روسیې، ایران او پاکستان سره غوښتل خپلې ستونزې حل کړي، دی تر څه حده په دې کې کامیاب هم و؛ خو امریکایانو کوښښ کاوه دا اړیکې خرابې کړي، د افغان حکومت او سیمې تر منځ بې باورۍ او بې اعتمادۍ هم همدوی رامنځته کوله. کله چې د ۲۰۱۴ کال ټاکنې ډاکتر اشرف غني وګټلې، یوه مشوره چې حامد کرزي ورکړه دا وه چې دی باید په امریکا ډېر باور ونه کړي او روابطو ته له هماغه ځایه ادامه ورکړي، کوم ځای ته چې دوی رسولي وو، خو متأسفانه داسې ونشول. ډاکتر اشرف غني د ۲۰۱۴ کال له ټاکنو مخکې خپل منشور کې د بهرني سیاست لپاره هم یوه تګلاره نشر کړې وه. دې تګلارې پنځه حلقې درلودلې. په تیوریکي ډول د ډاکټر اشرف غني تګلاره یوه واقعي تګلاره وه، داسې تګلاره چې امریکا په اولو حلقو کې وجود نه درلود او تر ډېره په سیمه ییز نښلون څرخېدله. دا هغه څه وو چې د صفحې پر مخ وو، خو حقیقت کې ډاکټر غني خپله تګلاره د خپلې دندې په اوله ورځ له امریکا سره د امنیتي تړون په لاسلیک کولو رد کړه.

امنیتي تړون سیمې ته تشویشونه ډېر کړل، سیمې ته دا مالومه شوه چې ډاکټر اشرف غني غواړي امریکا افغانستان کې پاتې کړي، همدا د دې لامل شو چې د ډاکټر غني د بهرني سیاست تګلاره هماغسې د ورقو پر مخ پاتې شي.

واقعیت دا دی چې د امریکا شتون کې د آزادې بهرنۍ پالیسۍ جوړول ممکن نه دي، ځکه لوی هیوادونه د دې لپاره واړه هیوادونه نه لاندې کوي چې هغوی خپل تصامیم خپله ونیسي؛ بلکې د دوی د برلاسۍ مفهوم همدا دی چې وتوانېږي له وړو هیوادونو د وسیلې په توګه استفاده وکړي.

دا چې اوس هم له نظامي حضور وروسته امریکا غواړي د مالي مرستو، نظامي همکاریو او نورو وسایلو له لارې خپله ستراتیژي پر مخ بوځي، بیا هم د هماغه وخت تکرار دی چې موږ دا ۲۰ کاله تجربه کړی. له دې امله سوله یوازینۍ لار ده چې په نتیجه کې یې جګړه ختمېدلای او یو داسې حکومت جوړېدلای شي، چې وکولی شي په خپله خوښه خپله بهرنۍ پالیسي ترسیم کړي.

په فرضي ډول که چېرته داسې حکومت جوړ شي چې بهرني سیاست او خپلو تصامیمو کې آزاد اوسي، باید په دقت د نوې بهرنۍ پالیسۍ په اړه فکر وکړي. موږ باید داسې بهرنی سیاست پر مخ بوځو چې د احساساتو، عواطفو او تنګ نظرۍ پر ځای پر واقعیتونو، درک او بصیرت ولاړ وي.

زما په اند، افغانستان باید خپل بهرني سیاست کې د لوېدیځ پر ځای ختیځ ته مخه کړي. دا چې ولې باید افغانستان دا کار وکړي، لوی بحث دی، خو زه په لنډه بڼه څو مهمو نقطو ته اشاره کوم:

لومړی؛ امریکا، ناټو او د ناټو ملګري هیوادونه موږ تېرو ۲۰ کلونو کې تجربه کړل. د دې تجربې د ناکامۍ لپاره له دې بل لوی دلیل نشته چې امریکا د افغانستان له حکومت سره په داسې وخت کې خپل فزیکي حضور سر ته رسوي، چې حکومت د خپل لنډ تاریخ په بدترین وخت کې قرار لري. دا هغه وخت دی چې حکومت له ټولو زیات ناټو او امریکا ته اړتیا لري، خو دوی یې په اړه بې تفاوته دي. زما په اند، دا له دې امله نه ده چې ګنې امریکا نه غواړي د افغان حکومت ملاتړ وکړي؛ بلکې دا د امریکا د ستراتیژۍ برخه ده چې غواړي حکومت د سرطان د ناروغ په شان داسې حالت کې پرېږدي، چې نه یې مرګ په نصیب وي او نه هم د رغېدو امید لري. امریکا ځکه دا کار کوي چې زموږ شاوخوا هیوادونو کې امریکا دوست نه لري، دلته سیمه په ټوله کې د دوی دښمنه ده او دوی غواړي سیمه له همدې ځایه کنترول کړي. دا چې امریکا وتوانېږي دا هدف لاسته راوړي، باید افغانستان کې حالات داسې وي چې دوی ترې استفاده وکړای شي. د سولې او مستقر حکومت په شتون کې ښایي امریکا ته دا استفاده مشکله وي.

دویم؛ د امریکا او چین د سیاسي رقابت له تناظره چې زموږ د هیواد راتلونکي ته ګورو، که چېرته افغان حکومت د امریکا په بلاک کې پاتې شي، له دوی به د چین او د سیمې نورو هیوادونو پر وړاندې یوازې د وسیلې په توګه استفاده کوي، ځکه چې امریکا داسې یو هیواد ته زموږ په سیمه کې اړتیا لري چې د چین او روسیې په انګړ کې نا امنه اوسي. زما په اند، دا فیصله دوی له ډېر وخته په افغانستان کړې.

درېیم؛ همدا راز چین او روسیه د دې اړتیا لري چې له خپل انګړه نا امني ختمه کړي او نسبي سوله اوسي، څو دوی آزاد اوسي چې د نړۍ په نورو ځایونو کې د امریکا شتون چلېنج کړي. که د دوی انګر کې دننه ورته جنجال جوړ وي، دا ممکنه نه ده چې دوی بل ځای کې مؤثر رول ولوبولا شي. راتلونکي افغان حکومت ته دا لوی فرصت دی چې د دې لویو شرقي هیوادونو له مجبوریته، له دوی استفاده وکړي.

څلورم؛ د هیواد شاوخوا د سیمې په هیوادونو کې هم بیا دوه داسې بلاکونه دي چې دا مهال قوي فعالیت لري، یو بلاک چین، پاکستان، ترکیه او بل بلاک روسیه او ایران دی. دا هم لوی بحث دی چې افغانستان بیا د دې دوو بلاکونو تر منځ د کوم مثلث برخه اوسي. زما په اند، د دې دوو بلاکونو تر منځ بیا افغانستان ته د ناپېلیتوب سیاست غوره کول پکار دي، افغانستان باید دا ټول هیوادونه سره په اقتصادي بڼه ونښلوي. ممکن دا اقتصادي نښلون د دې سبب شي چې افغانستان د پردیو د جګړې د میدان پر ځای اقتصادي څلورلارې شي.

تر هغې چې موږ له خپل هیواد څخه د خپل همسایه پر ضد د بل کلي ملک نه وي ځواب کړی، نه به زموږ سوله په نصیب شي او نه به دا سیمه استقرار وګوري.

---

چې د ۱۴۰۰ کال په مالي بودیجه کې هم ۲.۷ میلیارده افغانۍ ورته ځانګړې شوې دي؛ خو لا هم په ټولو ګمرکونو کې سکنرونه او عصري وسایل او تاسیسات نه دي جوړ شوي، چې له یوې خوا یې د فساد د کچې له لوړېدو سره مرسته کړې او له بلې خوا د سوداګرو د مالونو خرابېدو لامل هم شوي دي. د بېلګې په توګه، د هرات په اسلام قلعه بندر کې له محصول څخه د سوداګریزو توکو بار لاریو د تېښتې د مخنیوي لپاره د معیاري تاسیساتو جوړولو پر ځای لویې کېندنې تر سره شوې او کله چې د ۲۰۲۱ کال په فبرورۍ کې په اسلام قلعه بندر کې اورلګېدنه رامنځته شوه، نو ۶۰ تنو ته پکې ځاني زیان ورسېد او سوداګرو ته پکې د ۱۰۰ میلیونو ډالرو په کچه مالي زیان ورسېد، چې له کبله یې په عام بازار کې هم د توکو بیې ۱۵ سلنه لوړې شوې. هغه مهال د سوداګریزو توکو بار لاریو د ژغورنې پر وړاندې خنډ هم ژورې غیرمعیاري کېندنې او د اور وژونکو وسایلو نشتون و.

د ASYCUDA (Automated System for Customs Data) یا د ګمرکونو معلوماتو لپاره اتومات سیستم په تېرو ۳۰ کلونو کې تر ۱۰۰ زیاتو هېوادونو په ګمرکونو کې اغېزناکې آسانتیاوې او له ګمرکونو څخه تر لاسه کېدونکو عوایدو په برخه کې روڼتیا رامنځته کړې ده. د اسیکوډا سیستم فعالول د عوایدو په راټولولو کې روڼتیا، اداري پروسې د وخت په لحاظ لنډول، د سوداګریزو محمولو په کنټرول او له اداري فساد سره مبارزه کې اغېزناک رول لري.

د افغانستان په ګمرکونو کې هم د اسیکوډا سیستم پروژې چارې د ۲۰۱۱ کال اکتوبر میاشت کې پیل شوې او د ۲۰۱۵ کال په جون میاشت کې د یادې پروژې چارې بشپړې شوې. د دغه سیستم له فعالولو وروسته له وارداتو څخه د عوایدو تر لاسه کولو کې د پام وړ زیاتوالی راغی او ګمرکي پروسې یې آسانه کړې. د بېلګې په توګه، په تورخم ګمرک کې یې د سوداګریزو توکو بار لاریو انتظار له ۱۸ ساعتونو څخه ۹۰ دقیقو ته راښکته کړ. خو لا هم دا سیستم په ټولو ګمرکونو کې په سمه توګه فعال شوی نه دی او په ګمرکونو کې د داخلي کمزوري کنټرول سیستم له امله په دقیقه او سمه توګه سیستم ته معلومات نه داخلېږي چې له کبله یې تر اوسه هم په ګمرکونو کې د اداري فساد کچه لوړه ده. که د کنټرول داخلي سیستم نیمګړتیاوو ته پاملرنه وشي او اړوندې ستونزې له منځه یوړل شي، هم به د عوایدو په کچه کې زیاتوالی راشي او هم به د اداري فساد په مخنیوي کې اغېزناک رول ولوبوي.

**سپارښتنې:**

په ګمرکونو کې د اداري فساد د مخنیوي لپاره د جدي ګامونو اخیستلو اړتیا لیدل کېږي، چې ځینو ته یې دلته اشاره شوې ده:

تر هر څه وړاندې په ګمرکونو کې اداري فساد هم په هېواد کې د مجموعي اداري فساد یو مهم اړخ دی. له دې کبله په مجموع کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د افغان حکومت رښتینې ژمنتیا او جدي سیاسي اراده کولی شي په ګمرکونو کې هم د فساد کچه راښکته کړي.

په ټولیز ډول په ګمرکونو کې د اداري فساد د مخنیوي لپاره تر اوسه جدي او اغېزناک ګامونه نه دي اخیستل شوي. له دې کبله اړتیا ده، چې په ګمرکونو کې د فساد د مخنیوي لپاره لنډمهالي او اوږدمهالي بنسټیز پروګرامونه پلي شي.

په ګمرکونو کې د اداري فساد یوه ستره سرچینه د دولتي بستونو او په ځانګړې توګه د ګمرکونو د لوړپوړو او ټیټپوړو مامورینو د بستونو پېر او پلور دی، چې هغوی بیا وروسته د خپلو ورکړو پیسو د ګټلو لپاره اداري فساد ته هڅېږي. له دې کبله جدي اړتیا ده، چې د ګمرکونو مامورین د یوې شفافې او روڼې پروسې له لارې وګمارل شي او هغه کسان چې د دولتي بستونو په پېر او پلور کې لاس لري، په جدي ډول محاکمه شي. د ګمرک د مامورینو د ګمارلو په پروسه کې د حکومتي چارواکو او زورواکو لاسوهنه او رول په ټولیزه توګه بند شي او د هغو کسانو نومونه ملت ته افشا کړل شي، چې په ناقانونه توګه د ګمرک د مامورینو په ګومارلو کې له خپل نفوذ څخه کار اخلي.

په ګمرکونو کې د اداري فساد د مخنیوي لپاره د شکایتونو د ثبت او څېړلو یوه با صلاحیته او مستقله کمېټه جوړه او د تماس یو مرکزي سیستم رامنځته شي، څو هم په ګمرکونو کې د اداري فساد اړوند پېښې ثبت کړي او هم یې وڅېړي. د شکایتونو د دغه سیستم په اړه سوداګرو او عامو هېوادوالو ته عامه پوهاوي ورکړل شي، څو په ګمرکونو کې د اداري فساد د پېښو په اړه خبر ورکړي. د معلوماتو او احصایو د کره والي او روڼوالي لپاره جدي اقدامات وشي او د احصایې او معلوماتو اړوند اداري له لارې د صادراتو او وارداتو د کره احصایوي شمېرو په ثبتولو کې اصلاحات راوړل شي او د ګمرکونو اړوند ادارو سره یې همغږي زیاته شي، څو د ثبتېدونکو شمېرو او عوایدو تر منځ پرتلنه شونې شي او د عوایدو له ضایع کېدو مخنیوی وشي. د نظارت او کنټرول سیستم پیاوړی شي او په ځانګړې توګه د داخلي کنټرول سیستم د پرمختګ لپاره ګامونه واخیستل شي. همدا راز په غیر رسمي وختونو کې د ګمرکونو د دروازو څارلو لپاره له عصري ټکنالوژۍ کار واخیستل شي. د جوازونو، ګمرکي تعرفو او نورو اړوندو اسنادو پروسه یوازې په ډیجیټلي بڼې ومنل شي او کاغذي پروسه پای ته ورسول شي. د ګمرکونو لپاره معیاري زېربناوې جوړې شي، چې د سوداګریزو مالونو ساتنې لپاره آسانتیاوې رامنځته کوي او هم د فساد د مخنیوي په برخه کې مرستندویې واقع کېدلی شي.

هغه کسان چې په غیر قانوني توګه تر بازار پورې د غیر محصول شویو توکو په راوړلو کې لاس لري، هغوی وپېژندل شي او د قانون منګولو ته وسپارل شي.


دولتي او نادولتي څېړنیزو بنسټونو ته په ګمرکونو کې د اداري فساد د عواملو او حللارو په اړه د څېړنو زمینه برابره شي او د دغو څېړنو د موندنو په رڼا کې د اداري فساد د مخنیوي پالیسۍ اصلاح شي.

پای

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرینکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




## د بېگار د کمپ (زندان) تجربې

د (۱۹۴۵م) په مني او ژمي کې محرقه خپره شوه او نږدې ټول زندانیان پرې اخته شول. مړینه په هغو ناروغانو کې ډېره وه چې تر وروستۍ ساه کار کولو ته اړ وو. د دې ناروغانو ځای هم ډېر خراب و او دارو درمل هم ورته نه وو. د ناروغۍ ځینې نښې ډېرې بدې وې. مثلاً بې اشتهایي او کپ ډوډۍ نه خوړل، دا پخپله ژوند ته یو بل خطر او د تبې له امله د سرسام چپې راتگ و. د دې ناروغۍ تر ټولو بده بېلگه زما یو ملگری و. داسې فکر یې کاوه چې اوس به مري، دعا کول یې غوښتل؛ خو د سرسام له امله یې ټکي خولې ته نه ورتلل. له دغو چپو نه د خوندیتوب لپاره ما هم د ځینو نورو خلکو په څېر هڅه کوله چې د شپې ځان زیاتره ویښ وساتم. ساعتونه ساعتونه به مې په ذهن کې ویناوې جوړولې. ورو ورو مې ببرته هغه خطي نسخه جوړول پیل کړل چې په شویتز زندان کې رانه ورکه شوې وه. دا ځل مې مهمې کلیمې لنډې لنډې پر کوچنیو کاغذونو ولیکلې.

کله کله به په زندان کې علمي بحثونه کېدل. یوه ورځ مې داسې څه ولیدل چې تر دې مخکې مې په عادي ژوند کې نه وو لیدلي. سره له دې چې زما له مسلک سره یې تړاو هم درلود. دا کار په زندان کې د پېریانو (ارواوو) حاضرول وو. د زندان سرطبیب پخپله هم بندي وو، دی خبر شوی و چې زه ارواپوه یم، په دې خاطر یې خپلو ناستو ته وربللم. ناسته په روغتون کې د هغه په کوچنۍ خونه کې جوړه شوه. څو تنه سره راټول شول، د قانون خلاف پکې د تنظیف د برخې پوځي افسر هم و.

یوه کس په یوه ډول دعا د ارواوو راحاضرول پیل کړل. د کمپ مامور یوې سپینې پاڼې ته کېناست او د لیکلو هېڅ شعوري نیت یې نه درلود. جلسې لس دقیقې دوام وکړ او بیا په دې خاطر ختمه شوه چې اروا یې حاضره نه شوی کړای؛ خو په دې لسو دقیقو کې د هغه په لاس کې پنسل ورو ورو په خوځېدو شو او «VAE V.» کلیمه یې ولیکله. باور دا و چې دغه مامور هېڅکله لاتیني نه ده لیکلې او نه یې تر دې مخکې د (Vae Victis) کلیمه اورېدلې وه. دا کلیمه پر مغلوبو د لعنت په مانا وه. زه په دې نظر یم چې ده به یو ځل حتماً دا کلیمه چېرې اورېدلې وي، اوس به یې یادېږي نه، خو دی ببرته خپل لاشعور ته ورستون شوی وی. دغه غونډه زموږ تر خلاصون څو میاشتې مخکې د جگړې په پای کې جوړه شوې وه. سره له دې چې د زندان په ژوند کې پر موږ له ذهني او فزیکي پلوه بدوي ژوند تحمیل شوی و؛ خو بیا هم د روحاني غوپو امکان و. په زندان کې به له ذهني پلوه غني او حساس خلک ډېر ځورېدل او دا ځورېدل یې هم د خپل ظرافت له امله وو؛ خو د دوی باطني ژوند ته تر نورو لږ زیان رسېده. دوی له بهرني وېروونکي چاپېرياله خپلې غني باطني نړۍ او مانوي ازادۍ ته تللای شول. یوازې له دې لارې دغه تضاد تشرېح کولای شو چې ځینې خلک به په وجود کمزوري وو؛ خو د زندان د ژوند په مقابل کې یې تر ډېرو قوي خلکو مقاومت زیات و. د خپلې خبرې روښانولو لپاره اړ یم چې یو ځل بیا خپلو شخصي تجربو ته ورستون شم. اوس به درته د هغه سهار وختي کیسه وکړم چې موږ پکې کار ته روان شوو.

په لوړ غږ به راته قومانده کېده:

«تیار سئ، لومړی لیکه، مخ پر وړاندې؛ چپ، دوه، درې څلور؛ چپ، دوه، درې څلور؛ چپ، دوه، درې څلور؛ چپ، دوه، درې څلور؛ لومړی کس، چپ، چپ، چپ، چپ، خولۍ لرې!»

دا غږونه مې په ذهن کې اوس هم انگازې کوي. د «خولۍ لرې» غږ به مو چې واورېد، موږ به د زندان له دروازې واوښتو او څارونکي څراغونه به رابانديې لگېدل. څوک به چې په لیکو کې سم نه شوی تلای، وهل به یې خوړل او بده یې لا دا وه چې تر امر کېدو مخکې به کوم چا د یخنۍ له امله خولۍ پر غوږونو راکش کړې وه.

**دوام لري...**

# ستر سکندر او یونانیان د نني افغانستان په سیمه کې

**اکسوس‌کتابپلورنځی**

د کتاب لیکوال وایي: د مسلک په لحاظ زه له ټکنالوژۍ سره تړلی یم او تقریباً ۴۰ کاله مې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې دننه په افغانستان کې او هم بهر په نړیوالو موسسو کې هم تدریس او هم کار کړی دی. مگر زما یاد شي چې لا د ښوونځي له لومړنیو کلونو څخه مې له دوو مضامینو سره ډېره علاقه وه، چې یو د ریاضي مضمون و، چې د فزیک ځینې برخې هم پکې شاملې وې او بل د تاریخ مضمون. دا علاقه د کلونو په اوږدو کې را سره پاتې شوه. نو که په رسمي کارونو کې به ټول وخت له ټکنالوژۍ سره مصروف وم، مگر له هر ممکنه فرصت څخه په استفادې به مې کله کله د امکان په صورت کې د تاریخ مطالعه هم کوله. خصوصاً د سیمې او نړۍ له لرغوني تاریخ سره مې علاقه ډېره وه. لا په پخوا کلونو کې به مې چې کله کوم لیکلی اثر د لرغونو زمانو په هکله تر لاسه کړ، نو په ډېر خوند به مې لوست، که دا د هند او چین په هکله و او که د جنوبي اسیا او یا هم د اروپا په هکله.

په همدې ارتباط له کوچنیوالي څخه به چې کله لویانو د ستر سکندر په هکله کیسې یا افسانې ویلې، نو ډېر په هیجان به مې اورېدلې او په حافظه کې به مې تر ډېره وخته هماغه هیجاني کیسې پاتې شولې. که څه هم د هغو کیسو ډېره برخه یوازې افسانې وې، مگر هغو افسانو هم له یوه تاریخي حقیقت سره ارتباط درلود، چې هغه د بشریت په تاریخ کې د (مقدوني سکندر) یا (ستر سکندر) پیژندل شوی نوم و، چې بې له شکه په تاریخ کې ثبت شوی و.

په وروسته کلونو کې چې کله مې د مدیترانې د شاوخوا مدنیتونو تاریخي لیکل شوي اثار لوستل، د یونان او روم د امپراتوریو تاریخ به ما ته ډېر جالب و، خصوصاً د یونان تاریخ چې یوې خواته د فلسفي افکارو او مشهورو فیلوسوفانو کور و او بله خوا یې په خاصه توگه له مقدوني سکندر سره افتخارات تړل شوي و. د سکندر په هکله تاریخي اثار پدې هم ما ته جالب وو، چې مقدوني سکندر یوازینی اروپایي امپراتور و چې شخصاً زموږ نني هیواد افغانستان ته له خپل لوی لښکر سره راغلی و او بیا له همدې ځایه منځنۍ اسیا او لوی هند ته تېر شوی و. د لرغوني روم د تاریخ په هکله خصوصاً له میلاده مخکې ډېر لیکلي شوي اثار هم د لرغوني زمانې د لیکوالانو له قلمه او هم د معاصرو تاریخ پوهانو او اکاډمیکو منابعو څخه راپاتې دي، مگر د مقدوني سکندر په هکله له هغو زمانو څخه ډېر کم لیکل شوي اثار د تاریخپوهانو لاسته ورغلي دي. د ستر سکندر په هکله تر ټولو پخواني لیکل شوي اثار چې اوس هم موجود دي او یا نورو تاریخپوهانو یې موږ ته نقل کړي دي، ټول په سلگونه کاله د سکندر له مرگ څخه وروسته لیکل شوي دي.

نو مشکله ده چې د سکندر په هکله ځینې افسانې له حقایقو څخه بېلې کړل شي، ځکه چې مقدوني سکندر هم په اروپا کې او هم په اسیا او شمالي افریقا کې د یو افسانوي کرکټر حیثیت لري. د دې سیمو په هر ځای کې د خلکو په منځ کې یې کیسې پاتې دي، چې کیسه ویونکو به په پېړیو پېړیو په ډېر هیجان د سکندر د جنگونو او فتوحاتو کیسې ویلې او اوس هم سینه په سینه دا کیسې کېږي.

په اکاډمیکه نړۍ کې ډېر تاریخپوهان او د کلاسیک تاریخ پروفیسوران ټول لیکل شوي اثار نه مني. دوی یوازې هغه اثار مني چې په علمي څېړنو ولاړ د پخوانیو اسنادو ریښه ولري او د لرغون‌پیژندنې یا ارکیالوژیکي لاسته راوړنو په کمک علمي ثبوت ورسره وي.

موږ په دغه کتاب کې هڅه کړې چې د مقدوني سکندر په اړه هره خبره په علمي څېړنو ولاړه ثابته کړو او یوازې هغه څه مو پکې راوړي دي، چې د سکندر په اړه صدق کوي.

که غواړی چې د مقدوني سکندر د پاچاهۍ په برم، د هغه د حکومت په قانون او بیا یې د جنگ جگړو او د افغانستان له لارې نورو هیوادونو ته د لاس غځولو په اړه یوڅه پوه شی، دغه کتاب ولولئ.

مینه‌وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال/ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | اقتصادي اصطلاحات | محمد بشیر دودیال | ۲۷۰ف |
| ۲ | کلیات حقوق اداری | عبدالوحید نیاز | ۲۲۰ف |
| ۳ | د کریمنالوژۍ له نظره د جرم او مجرم څېړنه | هجرت الله صافی | ۲۵۰ف |
| ٤ | ډیپلوماتیکي او کونسلي حقوق | جواد صدر /هجرت الله اختیار | ۲۵۰ف |
| ٥ | په اسلام کې د فقر درملنه | علامه یوسف قرضاوي | ۱۸۰ف |
| ٦ | د رسنیو حقوق | نور انور فاروقي | ۱۸۰ف |
| ۷ | اداري حقوق | نقیب الله ثاقب/حضرت جعفر عرب | ۲۲۰ف |
| ۸ | پښتانه څوک دي؟ | دوست شینواری | ۷۰ف |
| ۹ | دفتري سیاست لارښود | کارن ډیلن | ۱۵۰ف |
| ۱۰ | خاستگاه | دن براون/فریبا جعفری نمینی | ۴۰۰ف |
| ۱۱ | پل سوخته آخر دنیا روایتی از هفت سال مرگ تدریجی | نستوه نادری | ۲۰۰ف |
| ۱۲ | ستر سکندر او یونانیان د نني افغانستان په سیمه کې | عتیق ځاځی | ۲۰۰ف |
| ۱۳ | How to Change Your Mind | Michael Pollan | ۲۵۰ف |
| ١٤ | The Four_THE HIDDEN DNA OF AMAZON , APPLE, FACEBOOK, AND GOOGLE | SCOTT GALLOWAY | ۳۵۰ف |
| ۱۵ | BORN FOR THIS | CHRIS GUILLEBEAU | ۲۷۰ف |
| ١٦ | THINKING FOR A CHANGE | JOHN C.MAXWELL | ۱۷۰ف |
| ۱۷ | FAILING FORWARD | JOHN C.MAXWELL | ۱۴۰ف |
| ۱۸ | WAY OF THE WOLF | JORDAN BELFORT | ۱۵۰ف |
| ۱۹ | THE NECTAR OF PAIN | NAJWA ZWBIAN | ۲۵۰ف |
| ۲۰ | COMMITTE A LOVE STORY | ELIZABETH GILBERT | ۲۴۰ف |
| ۲۱ | THE SPEED OF TRUST | STEPHEN M.R. COVEY | ۲۴۰ف |
| ۲۲ | The ٤ Hour Workweek | Timothy Ferriss | ۳۰۰ف |
| ۲۳ | The Bezos Letters | Steve Anderson | ۱۷۰ف |
| ۲٤ | The ۸۰/۲۰ PRINCIPLE | Richard Koch | ۲۵۰ف |
| ۲۵ | Academic Writing From paragraph to Essay | Macmillan | ۱۸۰ف |
| ۲٦ | THe $۱۰۰ STARTUP | Chris Gullebeau | ۲۰۰ف |
| ۲۷ | The Power | Rhanda Byrne | ۳۵۰ف |
| ۲۸ | The Egyptian A novel Mika Waltari | Mika Waltari | ۵۰۰ف |
| ۲۹ | د قلمرو عرفي او حقوقي نظام | امېد هېوادپال | ۱۰۰ف |
| ۳۰ | د ملي بودیجې هنداره | عبدالوصیل سمسور | ۱۰۰ف |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

اقتصاد

# پي ټي ایم: پاکستان دې ژر تر ژره د افغانستان په کورنیو چارو کې له مداخلې لاس واخلي

د پښتون ژغورنې غورځنگ یا پي ټي ایم د جنوبي وزیرستان د مکین په سیمه کې د یوې سترې غونډې پر مهال د پاکستان له حکومت وغوښتل ترڅو د افغانستان په چارو کې له لاسوهنې ډډه وکړي.
د دغې غونډې تصویرونه په ټولنیزو رسنیو کې خپاره شوي او ښکاري چې زرگونو کسانو پکې برخه اخیستې ده. د پي ټي ایم مشرانو پر پاکستاني رسنیو نیوکه وکړه چې د دوی د غونډې په اړه یې راپورونه نه دي خپاره کړي.
د یاد غورځنگ مشر منظور احمد پښتین د پاکستان حکومت تورن کړ، چې د ډیورنډ فرضي کرښې په هاغې غاړې کې د پښتنو خاوره د افغانستان پر ضد استعمالوي.
نوموړي پر خپلې رسمي فېسبوک پاڼې کې د غونډې له گډونوالو مننه کړې او لیکلي یې دي: «د نن جلسې پیغام ډېر واضح و چې موږ نور په خپله خاوره د هېچا جنگي پالیسي هم نه منو. د نن جلسه د ټول پښتون افغان وطن د امن لپاره وه او موږ نن ډېر واضح وویل چې په افغانستان کې دې د پاکستان منفي لاسوهنې بند کړل شي، د افغانستان جنگ د کرښې دې غاړې ته تباهۍ او بربادۍ راوړي.» د پښتین په خبره، پښتون ژغورنې غورځنگ به هېچاته اجازه ور نه کړي چې د پښتونخوا خاوره د افغانستان پر ضد استعمال کړي. په ورته مهال د سیاسي چارو کارپوه افراسیاب خټک د پښتون ژغورنې غورځنگ د پرونۍ غونډې په اړه پر خپل ټویټر لیکلي: «... په غونډې کې د پاکستان له لوري د افغانستان پر ضد د نا اعلان شوې جگړې مخالفت وشو چې ولسي خلک وژني. دا له افغانانو، سولې او جمهوریت سره یو پیوستون و...»
که څه هم د پاکستان حکومت تر دې دمه د پښتون ژغورنې غورځنگ د دغې غونډې او د غورځنگ د مشر منظور پښتین د څرگندونو په اړه کوم غبرگون نه دی ښودلی، خو د یاد هېواد چارواکي تل دا خبره کوي، چې هغوی په افغانستان کې امن او سوله غواړي او د دې کار لپاره هلې ځلې کوي. د پاکستان حکومت دا نه مني، چې گڼې هغوی طالبان روزي او دا چې د هغوی مشرانو ته یې په خپله خاوره کې ځای ورکړی، چې په افغانستان کې جگړه وکړي.
د یادونې ده چې د پښتون ژغورنې غورځنگ له څو کلونو راهیسې فعالیت کوي او د دوی په خبره، لویه موخه یې د پښتنو لپاره د اساسي حقونو غوښتل او د پښتنو په سیمو کې د امن راوستل دي. دغه غورځنگ د پاکستان پوځ هم تورنوي، چې د ترهگرو پر ضد د عملیاتو په نامه یې د پښتنو سیمې ورانې کړې او پښتانه یې وژلي او تري تم کړي دي، خو پوځ دا تورونه ردوي.



# د جگړو شدت او د کډوالۍ ناورین؛

## ډېری افغانان د جگړو د شدت او کډوالۍ له کبله د خپل راتلونکي په اړه ناهیلي شوي

له افغانستانه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو له اعلان سره جوخت، د هېواد په نږدې ټولو ولایتونو کې جگړې او نښتې شدیدې شوي او زرگونه کورنۍ د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي دي. پر کورنیو بې ځایه شویو سربېره، بهرنیو هېوادونو ته هم د افغان کډوالو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. ډېری دغه کډوال له سختو او خطرناکو لارو هڅه کوي چې ځانونه د ترکیې له لارې اروپایي هېوادونو ته ورسوي. له دې سره جوخت په بهرنیو او په ځانگړې توگه گاونډیو هېوادونو کې پر افغان کډوالو فشارونه ډېر شوي، ترڅو بېرته خپل هېواد ته ستانه شي.
تازه د کډوالو نړیوال سازمان وایي، چې د روان میلادي کال له جنوري میاشتې راهیسې تر اوسه پورې تر شپږ نیم لکو ډېر افغان کډوال خپل هېواد ته ستانه شوي دي. د یاد سازمان په خبره، سږکال له ایران او پاکستان څخه شپږ لکه او ۵۸ زره او ۹۷۵ افغان کډوال خپل هېواد ته راغلي دي. دغه سازمان وایي، له دې ډلې ٦ لکه ۵۲ زره او ٦۰ افغانان له ایران او ٦۹۱۵ له پاکستان څخه خپل هېواد ته ستانه شوي دي. بلخوا د ملگرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د اټکل له مخې، سږکال د جگړو له امله په کور دننه هم ۲۷۰ زره افغانان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي او اوسمهال په تر ټولو بد بشري وضعیت کې ژوند کوي. دا کډوال داسې مهال راستنېږي، چې په دې وروستیو کې په ټول هېواد کې جگړو او ناوتریخوالي هم زور اخیستی دی. زرگونه کډوال د جگړو، بېوزلۍ او وچکالۍ له کبله له لېرې پرتو سیمو څخه د ولایتونو مرکزونو ته راکډه شوي او اوسمهال جدي بشري مرستو ته اړتیا لري. په ورته مهال د افغانستان د کډوالو چارو وزارت وایي، دوی هڅه کوي چې دغو کورنیو ته خپلې مرستې ورسوي، خو د یاد وزارت ویاند په خبره، د هېواد روان امنیتي وضعیت ته په کتو، د کډوالو شمېر ورځ تر بلې مخ پر ډېرېدو دی او د دوی شته امکانات د دغو کډوالو لپاره بسنه نه کوي. یاد وزارت پر نړیوالې ټولنې هم غږ کوي چې د دغو کډوالو لاسنیوی وکړي او د پېښېدونکي بشري ناورین مخه ونیسي.
له دې سره هممهاله په دې وروستیو کې د افغان کډوالو موضوع د گڼو لوېدیځو رسنیو پام هم ځان ته را اړولی او ډېری یادې رسنۍ په افغانستان کې د بشري ناورین د رامنځته کېدو په اړه پرله پسې خبرداری ورکوي. دې چارې په کور دننه افغانان وېرولي او ډېری افغانان په نهیلۍ سره د یوې بدې راتلونکي لپاره شېبې شماري. دغه راز د امریکا په گډون ځینو بهرنیو هېوادونو هم له افغانستانه د هغو کسانو د ایستلو لړۍ چټکه کړې، چې له دوی سره په تېرو څو کلونو کې په بېلابېلو برخو کې همکاري کړې ده.



# د داعش ډلې له ماتې وروسته؛

## بایډن: ډېر ژر به په عراق کې د امریکایي ځواکونو جنگي ماموریت پای ته ورسول شي

د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر جوبایډن اعلان کړی چې په څو میاشتو کې به په عراق کې د امریکا جنگي ماموریت ختم شي. بایډن په سپینې ماڼۍ کې د عراق له لومړي وزیر مصطفی الکاظمي سره په لیدنه کې دا خبره کړې ده.ولسمشر بایډن خبریالانو ته ویلي، چې په عراق کې به د امریکایي ځواکونو نوی رول د پوځ روزل، همکاري کول، مرسته کول او که داعش سر پورته کړ، د دوی مقابله کول وي، خو د کال تر پایه به موږ په جنگي ماموریت کې نه یو.بایډن دا نه دي ویلي چې څومره امریکایي سرتېري به هلته پاتې وي، خو د راپورونو له مخې، اوسمهال امریکا په عراق کې ۲۵۰۰ سرتېري لري. د بایډن او الکاظمي له دې لیدنې وروسته د عراق او امریکا په یوې گډې اعلامیې کې ویل شوي: «امنیتي اړیکې به په بشپړ ډول د روزنې، همکارۍ، مشورې ورکولو او استخباراتي معلوماتو د شریکولو په رول بدلې شي او د ۲۰۲۱ز کال د ډسمبر تر ۳۱ پورې به هېڅ امریکایي عسکر په عراق کې د جنگي ماموریت لپاره نه وي پاتې.»
د دواړو مشرانو تر له لیدنې مخکې د سپینې ماڼۍ ویاندې جن ساکي خبریالانو ته ویلي وو چې په عراق کې د امریکا د ماموریت بڼه بدلېږي او په خبره یې، دا کار په عراق کې د امریکا حضور او همکاري نه ختموي. په ورته مهال د امریکا دفاع وزیر لوېډ اسټن هم ویلي، چې امریکایي عسکر به په عراق کې بېلا بېلې دندې ترسره کوي. امریکایي چارواکي دغه راز وایي، ټوله هڅه یې دا ده چې د داعش ډله بیا په عراق کې فعاله نه شي او عراق بیا د دغې ډلې پر ځالې بدل نه شي.
د یادونې ده چې امریکا په ۲۰۱۴ز کال کې وروسته له هغه بیا عراق ته اضافي سرتېري واستول چې داعش ډلې د عراق او سورېې گڼې سیمې ونیولې او هلته یې د اسلامي حکومت د جوړولو اعلان وکړ. د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې له عراق څخه ډېر امریکایي عسکر وایستل.
ولسمشر بایډن داسې مهال په عراق کې د خپل جنگي ماموریت د ختم نېټه اعلان کړه، چې د عراق په حکومت باندې د امریکا ضد ایراني پلوو ډلو فشار زیات دی او غواړي چې امریکایي عسکر ژر تر ژره له عراق څخه ووځي.



## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۷۰ |
| € | ۹۳,۵۰ |
| Rp. | ۴۹۵ |
| ₹ | ۱۰۸۵ |
| ¥ | ۱۱,۷۰ |
| £ | ۱۰۸,٦۰ |

## بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایگل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ٦مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۲۸مه | ۷۵۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۶ | ۳۳ | ۴۳ | ۳۷ | ۳۹ | ۲۹ |
| ۲۲ | ۲۵ | ۲۶ | ۲۹ | ۲۶ | ۲۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۳ | لمر ختل ۰۵:۰۱ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۴:۵۵ | ماښام ۰۶:۵۹ | ماخوستن ۰۸:۳۷

## نړۍ



# د داعش ځلـــې له ماتي وروسته؛

## بایډن: ډېر ژر به په عراق کې د امریکايي ځواکونو جنګي ماموریت پای ته ورسول شي ۵

## محمدی: عملیات پس گیری ولسوالی‌هایی که به دست طالبان افتاده‌اند، به زودی آغاز خواهد شد



سرپرست وزارت دفاع ملی می‌گوید که عملیات پس‌گیری ولسوالی‌هایی که به دست طالبان افتاده‌اند، به زودی آغاز خواهد شد.

بسم‌الله محمدی، سرپرست وزارت دفاع افغانستان که برای بررسی اوضاع امنیتی ولایت های شمال کشور به بلخ رفته است، می گوید به زودی عملیات پس گیری ولسوالی های تصرف شده توسط طالبان، آغاز خواهد شد. به گفته وی: «یک تعداد نیروهای ما را آماده به این ساختیم که حملات خود را انجام دهیم شما کلدار را دیدید و این قوت‌هایی بود که تازه سازماندهی شد و اینها توانستند رفتند بعضی مناطق را گرفتند.»

این در حالی است که نیروهای دولتی روز دوشنبه پس از نزدیک به یک‌ماه، مرکز این ولسوالی را از نزد طالبان پس گرفتند. ولسوالی یی که در پنجاه کیلومتری حیرتان، یکی از بزرگ‌ترین بندرهای بازرگانی کشور قرار دارد. محمدفرهاد عظیمی، والی بلخ در این باره گفت: «دشمن فعلا متواری شده و خط مقدم از مقر ولسوالی به طرف شرق تا حدود ده کیلومتر پیش‌رفته که انشاءالله این تا حدبخشی کندز پاک‌سازی می‌شود و نیروهای مفرزه امنیت‌ملی و سایر نیروهای دولتی که قبلا در کلدار مستقر بودند اینها مستقر می‌شوند و خدمات حکومت‌داری به صورت نورمال ادامه پیدا می کند.»

نشانه‌های جنگ در شماری از ساختمان‌های این ولسوالی دیده می‌شوند. گلوله‌ها داغ‌هایی را بر ساختمان این مسجد در مرکز ولسوالی کلدار گذاشته‌است. شماری از دفترهای دولتی و دکان‌ها نیز زیان دیده‌اند.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له څلور میلیونه او ۱۸۷ زره کسانو واوښت

د تازه شمېرو لـه مخـې، په نـړۍ کـې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۹۵ میلیونه او ۵۸۵ زره او ٦۲۱ کسانو تـه رسېدلی دی. دغـه راز د یاد ویروس لـه کبله تـر دې مهالـه څلور میلیونـه او ۱۸۷ زره او ۵۵۸ کسان مړه شوي او له ۱۷۷ میلیونو ډېر تـرې ببرتـه رغېدلي دي.

د یـادو شـمېرو لـه مخـې، د امریـکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتـو پېښـو او قربانیانـو لـه اړخـه د نـړۍ تـر ټولـو مخکـښ هېـواد دی. د راپورونـو پـر بنسـټ، پـه امریـکا کـې د دغـه ویروس مثبتي پېښـې ۳۵ میلیونه او ۲۸۷ زره او ۲٦۹ تـه رسـېدلي او ٦۲۷ زره او ۳۹ نـور امریکایـان تـرې مړه شــوي دي.

دغـه راز هنـد د ۳۱ میلیونـه او ۴۴۰ زره او ۹۵۱ مثبتـو پېښـو لـه اړخـه د نـړۍ دویـم، برازیـل د ۱۹ میلیونـه او ۷۰۷ زره او ٦٦۲ مثبتـو پېښـو پـه درلـودو سره د نـړۍ دریـیم، روسـیه د شـپږ میلیونـه او ۱۷۲ زره او ۸۱۲ مثبتـو پېښـو له اړخه د نـړۍ څلـورم او فرانسـه د پنځـه میلیونه او ۹۹۹ زره او ۲۴۴ مثبتـو پېښـو لـه اړخـه د نـړۍ پنځـم هغـه هېـواد دی، چـې د کرونـا ویـروس ډېـرې پېښـې پکـې ثبـت شـوي دي.

برېټانیـا، ترکیـه، ارجنټایـن، کولمبیا او ایټالیـا بیـا پـه ترتیـب سره شـپږم، اووم، اتـم، نهـم او لسـم هغـه هېوادونـه دي چـې د کرونـا لـه کبلـه ډېـر ځپل شـوي دي.

## ملګري ملتونه: د تونس ښکېلې خواوې دې روان کړکېچ د خبرو له لارې حل کړي



وروسته له هغې چې د تونس ولسمشر قیس سعید د حکومت لومړی وزیر او پارلمانېې منحل کړ، د دغه هېواد د پارلمان مخې ته د نښتو راپورونه ورکړل شوي دي. په همدې حال کې د دغه هېواد پوځ ته دنده سپارل شوې، چې د دولتي ودانیو ساتنه وکړي.


ولسمشر سعید لومړی وزیر هشام المشیشي له دندې ګوښه او پارلمانېې د یوې میاشتې لپاره بند کړ، خو د تونس تر ټولو لوی اسلامپال سیاسي ګوند النهضه دې اقدام ته د پوځي کودتا نوم ورکړی دی.

د وروستیو راپورونو له مخې، پوځیانو د پارلمان ودانۍ بنده کړې او دولتي ودانۍ یې کلابندې کړې دي او په عین حال کې د ولسمشر سعید او د النهضه ګوند سلګونو پلویانو له یو بل سره نښتې کړي چې ځینې کسان پکې ټپیان شوي هم دي.

په ورته مهال ملګرو ملتونه بیا په دغه هېواد کې د ارامۍ د ټینګېدو غوښتنه کړې ده. د ملګرو ملتونو د سرمنشي انتونیو ګوترېش یوه ویاند فرحان حق ویلي چې ټولې خواوې باید له زغمه کار واخلي، تاوتریخوالی پرېږدي او ډاډمنه کړي چې وضعه ارام کېږي. نوموړي دغه راز زیاته کړې چې هر راز جنجال باید د خبرو له لارې هوار شي.


## ژوند

## ډېر ګرم چای او روغتیايي زیانونه یې



هسې خو په ټوله نړۍ کې د چایو مینه‌وال د میلیونونو په شمېر دي او له دې جملې زیات شمېر یې خپله ورځ د چایو په څښلو سره پیلوي. خلک څکه چای خوښوي چې پر باور یې دوی ته انرژي وربخښي. خو نن ورځ مو د چایو په اړه له یوې نوې څېړنې څخه خبروو، په دې څېړنه کې ساینسپوهانو د هغو کسانو په اړه خبرې کړې چې د ګرمو چایو د څښلو عادت لري. د روغتیايي کارپوهانو له لوري په تر سره شوې څېړنه کې راغلي، هغه کسان چې ګرم چای څښي د هغوی د غذا په نلونو کې زخم پیدا کېږي، چې په همدې سبب یې د سرطان د ناروغیو خطر پنځه برابره ډېرېږي. روغتیایي کارپوهان وايي چې د ګرمو چایو د څښلو په سبب د ساه اخیستلو په نل کې زخم پیدا کېږي، چې بیا یې ښه کېدل ستونزمن کېږي او هغه کسان چې سګرېټ څکوي، په هغوی کې دغه کچه نوره هم ډېرېږي. دوی وايي هغه کسان چې له شپېتو تر اویا کلونو پورې عمر لري، هغوی پر دې ناروغۍ له نورو ډېر اخته کېږي.

## بریا او پرمختګ زموږ د ذهن زېږنده دي



لومړی ځای چې تاسې پکې کامیابي له لاسه ورکوی او ماتې خوری، هغه ځای مو خپل ذهن دی. کېدای شي حس کړی چې اتیا زره کسان ستاسې پر ضد چیغې وهي او درته وايي، تاسې د دې کار وړتیا نه لری. دا ډېره لویه ستونزه ده، خو حل یې اسانه هم دی. هغوی ته یوازې دا ووایئ: خبرې مو دېوال ته وکړئ، زه په هېڅ صورت ستاسې خبرې نه اورم. که هغوی غوښتل چې په ذهن کې مو کوټه ونیسي، ورته ووایئ، زما په ذهن کې هېڅ تش ځای نشته. که مو فکر د خدای پاک له وعدو سره همغږی کړی، ستونزې به شاته پرېږدی او خپلو موخو ته به ورسېږی. اصلي کلي هغه فکر دی چې ستاسې په ذهن کې ګرځي. په ذهن کې مو څه څه ګرځي؟ پرېکړه وکړئ چې هیلې مو د خدای پاک له وعدو سره همغږې کړی او له ځان سره ووایئ: زه پیاوړی یم، وړتیا لرم او نوښتګر یم. فکر وکړئ بریالي یاست، هماغه دې چې له همدې فکر کولو وروسته به د زړه او ذهن سکون پیدا کړی، ځکه بریا ستاسې له ذهنه پیلېږي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank